**د افغانســتان اســـلامی امارت**
**د ارشــاد ، حج او اوقافو وزارت**
**د مساجدو داراشاد او انسجام رياست**
**دارشاد او دعوت آمريت**
**د خطبو دتنظيم عمومي مديريت**

---

**جمعې د خطبې لاربښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۸/۲۱هجری قمری مطابق۱۴۰۱/۱/۵هجری شمسی**

# د زکات فرضيت، ګټې او مستحقين يې

الحمد لله الذي جعل الزكاة طُهرة للغني وموساة الفقير، وعلاجاً لداء البخل والتقتير، والصلاة والسلام علي سيدنا محمد البشير النذير، وعلي آله وأصحابه أهل العطاء والتيسير، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى في محكم كتابه :{وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ }البقرة : ٤٣

وعن ابن عمررضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «بُنِيَ الاسلاَمُ على خَمسٍ : شَهَادَةِ أن لاإلَهَ إلاَّ اللهُ وَ أنَّ مُحمَّداً رَسُولُ اللهِ، وَ إقَامِ الصَّلاَةِ، وَإيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَومِ رَمَضَانَ ». متفق عليه

**د زکات تعریف:**

زکات د عربي کلماتو مصدر دی په لغت کې د نورو معناګانو ترڅنګ د ودی ، زیاتیدو، برکت ، پاکوالي او طهارت په معنی راغلی ده. لکه چې: د کښت او زراعت د ودی او د ځمکې د حاصلاتو زیاتیدو په مهال ویل کیږي ( زکا الزرعُ و زکا المالُ) یعنی: کښت، زراعت، مال او پانګه زیاته شوه او وده یې وکړه.( العناية شرح الهداية)

دا يو مسلم او ثابت کار دی چې کرکیله هغه وخت و ده کوي چې د بې فايدې ګیاه او بوټو نه پاک شي او خیشاوه یې وشي، همدغه شان د انسان مال، نفس او نور کارونه هله پاک او سوچه کیږي چې د ککړتیاو او هغو حقونونه پاک شي چې فقيران يې پکې لري، لکه چې الله جل جلاله د پانګوالو او بډايو خلکو په مالونو کې د فقيرانو د حقه حقوقو يادونه کوي فرمايي:{والذين في أموالهم حق معلوم للسائل و المحروم} المعارج: ۲۴-۲۵

**ترجمه:** هغوي چې په مالونو کې يې معلوم حق او مشخصه برخه شته د غوښتونکو او پاتی خلکو لپاره.

او ددی خبرى د ليل چې زکات ورکول په مال کې د برکت او زياتيدو لامل ګرځي دغه مبارک آيت دی چې الله تعالى فرمايلي: {وَما آتَيْتُمْ مِنْ زَكاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ } الروم: ۳۹

**ترجمه:** او هغه څه چې د زکات په توګه ورکوی او يوازې د الله جل جلاله رضا غواړي همدا کسان د مضاعف ثواب لرونکي دي.

پورتينو نصوصو او د زکات لغوي مفهوم ته په کتو دا چې زکات ورکول، د زکات ورکوونکي په مال او پانګه کې د ودی او زياتوالي لامل ګرځي، په دې اړه امام راغب اصفهاني وايي:( هو النمو الحاصل عن بركة الله تعالى) زکات عبارت دی له هغه ودی او زياتوالی څخه چې د الهي برکت په اثر په مال کې راځي. المفردات للراغب كلمة (زكاة)

**د زکات اصطلاحي معنا:**

زکات د شریعت په اصطلاح کې، د هغه مال څخه عبارت دی چې په ځانګړي شرائطو سره مشخصو مستحقينو ته د نصاب د خاوندانو څخه ورکول کيږي.

ملاعلی القاری رحمه الله زکات داسې تعریف کړ دی : (**اسم لمایخرجه الانسان من حق مالي لله تعالی فی زمن مخصوص لطائفة مخصوصة علی وجه مخصوص**). د ملا علي القاري د صحیح البخاري مختصره شرحه (۳/۳).

یعنی: زکات د هغه الله جل جلاله پورې مربوط مالي حق نوم دی چې انسان يې په مخصوص وخت کې خاصو خلکو ته په مخصوصه طریقه ورکوي.

زکات ته ددې وجې نه زکات وايي؛ چې زکات ورکوونکی د زکات په و رکولوسره دا هیله لري چې مال یې: د نورو د حقونو او نفس یې د حرص، بخل نه پاک شي او په عین حال کې په مال کې یې د خیر او برکت د زیاتوالي امید کوي.

## توضیحات:

زکات د دین له ارکانو څخه دریم رکن او د اسلام له فرائضو څخه یوه فریضه ده.

د قرآن کریم په (۳۲) ځایونوکې د زکات کلمه راغلی ده چې په اکثرو ځایونو کې د زکات کلمه دلمانځه سره پیوسته ذکر شوی ده. زکات د زمکې پر سر داسلام هغه یواځنی نظام دی چې د خلکو ترمنځ ټولنیزاو اقتصادي عدالت تامینوي.

زکات د مال د پاکۍ ، د مال د ودې او زیاتیدو لامل ګرځي. څوک چې د خپل مال زکات اداء کړي په حقیقت کې الله تعالی د ده د مال شر له ده څخه لرې کړ او څوک چې د خپل مال زکات د نفس په خوشحالۍ سره اداء کړي د ایمان خوږوالی څکي.

د زکات اداء کول د انسانانو ټولنیزې اړیکې سره ټینګوي او د زکات ور کول د ټولنې د خلکو ترمنځ شفقت، مهرباني او همغږي رامنځ ته کوي، دا چې زکات اداء کوي لوی اجر لري، پریښودل یې ګناه ده، نو پر مسلمان لازمه ده چې د الله جل جلاله رالیږلي حدود وپیژني او د الله حق اداء کړي او بیا د الله تعالی په لوی اجر او ثواب خوشحالي ترلاسه کړي .

د زکات ورکول د زکات ورکوونکي په ایمان دلالت کوي او په زکات سره د زکات ورکوونکي مال پاکیږي او زیاتیږي. د زکات په ورکولو سره د مال د نعمت شکر اداء کیږي او ټولنه د فقر، تنګدستی او تنګسي څخه خلاصیږي.

زکات داسی فریضه ده چې فرد او اجتماع پاکوي، زکات د ټولنې د پرمختګ او سوکالي لامل دی چې په افرادو کې د فضیلت تخمونه کري ، او دا ډیر څرګند تعبیر دی چې د زکات په هکله یې ویلی شي چې: له یوی خوا ککړتیاوې له منځه وړي او له بلی خوا تکامل پیداکوونکی دی.

اوس چې افغانستان داستعمار له منګولو خلاص شوی دی او په ولس کې ناتواني او اقتصادي ضعف راڅرګند شوی دی، د خلکو دلاس نیوي غوره لار هغه د زکات حکم عملي کول دي؛ ترڅو په خپلو پښو ودریږو او د پردیو داحتیاج څخه خلاص شو.

زکات په اسلام کې اساسي اقتصادي منبع ده چې اسلامي ټولنه رغوي او په ټولنه کې بې وزلي او فقر له منځه وړي.

## د زکات اهمیت :

**۱-زکات د قرآن کریم په آیتونو کې :**

زکات اهمیت ددې څخه ډیر ښه معلومیږي چې الله تعالی په قرآن کریم کې د زکات کلمه لمانځه سره پیوسته ذکر کړې ده. الله تعالی فرمایي: {وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ} البقرة :( ٤٣)

**ژباړه:** او لمونځ قايم کړئ، زکات ورکړئ او کوم خلک چې رکوع کوي( ماته سر ټیټوي) تاسو رکوع وکړئ.

الله تعالى فرمايي:(خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاَتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ}التوبة :( ١٠٣ )

**ژباړه:** اى پيغمبره! ته دهغوی له مالونو څخه د زکات په اخيستلو سره هغوی پاک کړه او ددوی لپاره د رحمت دعا وکړه ځکه چې ستا دعا دهغوی لپاره د ډاډينې وسيله ده، الله هرڅه اوري او په هرڅه پوهيږي .

همدا رنګه د پيغمبرعليه السلام په زمانه کې د کفر څخه دتوبې نښانه لمونځ او زکات ورکول د شرط په توګه يادشوي دي:{فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصلاةَ وَءاتَوُاْ الزكاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ} التوبة:٥

**ترجمه:** که چيرې دوی توبه وويستله او لمونځ يي وکړ او زکات يي ورکړ نو بيايې بريږدئ.

په بل آيت مبارک کې راځي:{فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصلاةَ وَءاتَوُاْ الزكاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدّينِ} التوبة:١١

بالعکس څوک چې دخپلو مالونو زکات نه ورکوي د آخرت په ورځ به ورته سخته سزا وي او ددوی لپاره به خپل مالونه لوی تکليف وي او دخپلو مالونو په وسيله به داغل کيږي. الله تعالى فرمايي :{وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ}آل عمران : ١٨٠

**ژباړه:** کومو خلکوته چې الله له خپل فضل نه ( مال) ورکړی کړې دی او بيا هغوی له بخيلۍ نه کار واخلي هغوی دې دا نه ګڼي چې دا بخيلي دهغو لپاره ګټوره ده، نه ، دا د هغو لپاره ډيره بده ده څه شی چې هغوی په خپله شومتيا راغونډوي هماغه به د قيامت په ورځ دهغو د غاړې طوق شي، د اسمانونو او ځمکې ميراث يوازې د الله دی او تاسې چې څه کوئ الله پرې خبر دی.

همدا راز الله تعالى فرمايي : {وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ الِيمٍ يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَـذَا مَا كَنَزْتُمْ لأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ} التوبة :( ٣-٥)

**ژباړه:** او هغه خلک چې سره او سپين زر خزانه کوي او هغه د الله جل جلاله په لاره کې په مصرف نه رسوي ( يعنى زکاة ورڅخه نه ورکوي)، د درد ناکې سزا زيری دوی ته ورکړه.

يوه ورځ به راشي چې همدا سره او سپين زر به د دوزخ په اور ګرم کړای شي او بيا به په هغو سره د دې خلکو وچولي، اړخونه او شاګانې وداغل شي، دا ده هغه خزانه چې تاسې د خپلو ځانونو لپاره غونډه کړې وه، واخلئ اوس د خپلې زيرمه کړې شتمنۍ خوند وڅکئ .

**٢-زکات د رسول الله صلى الله عليه وسلم په آحاديثو کې:**

د پيغمبر عليه السلام په آحاديثو کې د زکات ورکولو په اړه دومره زيات تاکيد شوی چې پيغمبرعليه السلام فرمايې چاچې زکات ورکړ زما د توری څخه يي ځان وساته او ابوبکر صديق رضى الله عنه هم د پيغمبرعليه السلام د وينا په بارکی ته متوجه ۇ کله چې د پيغمبرعليه السلام د وفات څخه وروسته ځينې خلکو د زکات ورکولو څخه ډډه وکړه؛ ابوبکرصديق رضي الله عنه يي په اړه د مسلح جهاد اعلان وکړ او وه يي فرمايل: (والله لأقاتلن من فرق بين الصلاة والزكاة ) الجمع بين الصحيحين، للحميدي. ترجمه: قسم په الله تعالى، څوک چې د لمانځه او زکات ترمنځ فرق کوي زه به ورسره وجنګيږم.

زکات د ايمان دريم مهم رکن دی. د زکات په اړه پيغمبرعلى السلام فرمايلي دي:«بُنِي الاسلاَمُ على خَمسٍ : شُهَادَةِ أن لاإلَهَ إلاَّ اللهُ وَ أنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ، وَ إقَامِ الصَّلاَةِ، وَإيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجّ، وَصَومِ رَمَضَانَ ». متفق عليه

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : اسلام په پنځو بنستونو ولاړ دی: ګواهی ورکول دي چې د الله نه پرته بل هیڅ برحق معبود نشته او محمد د الله رسول او رالیږلی دی . دلمانځه قایمول، زکات اداء کول، د بیت الله حج کول او د رمضان د میاشتي روژه نیول دي .

**وعن** جابر رضي الله عنه قال :« قَالَ رَجُلٌ مِنَ القَومِ : يَارَسُولَ اللهِ ! أرَأيْتَ إنْ أدَّى رَجُلٌ زَكَاةَ مَالِهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : مَنْ أدَّى زَكَاةَ مَالِهِ فَقَدْ ذَهَبَ عَنْهُ شَرُّهُ» . رواه الطبرانی فی المعجم الاوسط

ژباړه: له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: د خلکو له ډلې یوه سړي وویل : ای د الله رسوله ! ما ته ووایه که یو نفر د خپل مال زکات ورکړي ( نو د ده لپاره به څه وي ؟) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : څوک چې د خپل مال زکات ورکړي په حقیقت کې د ده د مال څخه ضرر لرې شوی دی.

**وعن** أبي كبشة الأنماري رضي الله عنه : أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : « ثَلاَثَةٌ أقسِمُ عَلَيهِنَّ وَأُحَدِّثُكُم حَدِيثا فَاحفَظُوهُ – قال – مَانَقَصَ مَالُ عَبدٍ مِن صَدَقَةٍ » رواه الترمذي

**ژباړه:** له ابو کبشه الانماري رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه مې اوریدلي دي چې فرمایل يې :درې څیزونه دي چې زه په هغه قسم یادوم او یوحدیث به تاسې ته ووایم باید هغه په یاد ولرئ او ویې ویل د هیڅ بنده مال په صدقه نه کمیږي .

همدا راز په محمدي شریعت کې د هغه چا لپاره سخت وعید بیان شوی دی چې په مال کې یې زکات واجب وي خو زکات نه ورکوي . په یو حدیث کې داسې راځي:

**وعن** أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : «مَن آتَاهُ اللهُ مَالاً فَلَم يؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يومَ القِيامَةِ شُجَاعاً أقرَع، لَهُ زَبِيبَتَانِ، يطَوَّقُهُ يومَ القِيامَةِ ،ثُمَّ يأخُذُ بِلِهزِمَتَيهِ– يعني بشدقيه – ثُمَّ يقُولُ : أنَا مَالُک، أنَا كَنزُک، ثُم تَلاَ: (وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ...). رواه البخاري

**ژباړه:** له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : یوه چا ته چې الله پاک ډیر مال ورکړی وي او هغه يې د مال زکات نه ورکوي، د ده دغه مال به د قیامت په ورځ د یوه سرخریبلي مار په بڼه ( هغه مار چې په سریي ویښته نه وي او دا د ده د زهر لرلو نښه ده ) وګرځي او دا مار به دوه غاښونه لري هغه به د قیامت په ورځ ترخپل ملګري حلقه شي او بیا به هغه په دواړو ژامو ونیسي او بیا به ورته وایي : زه ستا مال یم او زه ستا خزانه یم او بیا یې دغه مبارک آیت تلاوت کړ: (وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ) .

په یو بل حدیث پیغمبرعلیه السلام فرمایي:

**وعن** أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :«مَامِن صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلاَ فِضَّةٍ لاَيؤَدِّي مِنهَا حَقَّهَا ؛ إلاَّ إذَا كَانَ يومُ القِيامَةِ صُفِّحَت لَهُ صَفَائِحُ مِن نَارٍ، فَأحمِي عَلَيهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فيكوَي بِهَا جَنبُهُ وَجَبِينُهُ وَ ظَهرُهُ ؛ كُلَّمَا بَرَدَت أعِيدَت لَهُ فِي يومٍ كَانَ مِقدَارُهُ خَمسِينَ ألفَ سَنَةٍ حتى يقضَي بَينَ العِبَادِ؛ فَيرَي سَبِيلَهُ : إمَّا الى الجَنَّةِ وَإمَّا الى النَّارِ » مسلم

**ژباړه:** له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هیڅ د طلا او نقرې څښتن نشته چې دهغه حق (زکات) نه ورکوي مګر دا چې د قیامت په ورځ به ورته د اور تختي شي

او د دوزخ په اور به ګرمې شي د ده ډډه او تنده به پرې داغل کیږي او کله چې دا تختي یخې شي بیا به ګرمیږي په هغه ورځ چې اندازه یې پنځوس زره کاله ده، ترڅو د بندګانو ترمنځ حکم وشي او دوی خپله لاره د جنت یا دوزخ په لوري ووینې .

**۳-اجماع:**

همدا راز د اسلام ټول امت په دې اجماع لري د زکات فرضیت او اهمیت د توحید دکلمي او دلمانځه څخه وروسته په دریم ځای کې قرار لري.

امام ابن هبیره په خپل کتاب اختلاف العلماء کې لیکلي دي:( وأجمعوا على أن الزكاة أحد أركان الإسلام ، وفرض من فروضه) .ترجمه: ټول امت په دې اتفاق لري چې زکات داسلام له پنځو ارکانو څخه یو رکن دی او دالله تعالی له فرائضو څخه یو فرض دی.

## د زکات د مشروعیت حکمتونه:

دا چې الله جل جلاله یو حکیم ذات دی او غوره دین اسلام یې پر حکمت ولاړدی نو ټول الهي طاعتونو عبادتونه د هغو په جمله کې: زکات هم ګڼ شمیر حکمتونه لري چې ځینی یې په لاندې ډول دی:

**۱- د پاکۍ او طهارت ترلاسه کول:**

د زکات او صدقاتو د مشروعیت یو حکمت د مال او نفس پاکوالی او طهارت ترلاسه کول دي، ځکه د بریا او فلاح یو اساسي او عمده شرط د شتمن سړي له بخل نه باطني پاکوالی دی او انساني نفس آزادیدل دي د حرص له بندیخانی نه ، ښکاره ده چې د حرص او کنجوسی سپیره ستونزه لوی آفت دی چې هر سړی او هره ټولنه ور سره لاس او ګریوان وي، کنجوسي د بریا مخه نشي لیدلای. لکه چې الله تعالی د بخل او حرص نه ځان ساتل د بریا او کامیابۍ شرط ګڼلی او فرمایلي یې دي:{وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ }الحشر: ۹
ترجمه: څوک چې د خپل نفس له بخل نه وساتل شو، هغوی بریالی دي.

د دی دلیل چې زکات د شتمنو خلکو د نفس د طهارت او پاکی له حرص او بخل نه او د بیوزلو خلکو د حسد او کینې د بیماری نه د خلاصون سبب ګرځي، دغه مبارک آیت دی چې الله تعالی فرمایي: (خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ }التوبة : ۱۰۳
ددوی د مالونو څخه زکات واخله او دوی د زکات په وسیله د ګناهونو څخه پاک کړه.

**۲- مال سره د مینې، حرص او بخل غریزې باندې واکمني او برلاسی:**

د زکات دمشروعیت بل حکمت دادی چې انسان په خپل نفس باندې داسې برلاسی شي چې د مال او دولت سره د بې کچې مینې او محبت غریزه یې د الله تعالی دحکم تابع شي. د همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه صدقه غوره بللې چې انسان د روغتیا سلامتی په لوړه سطحه او پاچایي په اوچت پړاوکې وي او صدقه وکړي.

لکه چې د پیغمبر علیه السلام نه و پوښتل شول: ( أي الصدقة أعظم أجرا؟) یعنی: د کومی صدقی اجر او ثواب ډیر ښه او غوره ده؟ پیغمبر علیه السلام په ځواب کې و فرمایل: ( أن تصدق و أنت صحيح، شحيح، تخشى الفقر و تأمل الغنى ولا تمهل حتى اذا بلغت الحلقوم قلت لفلان كذا و لفلان كذا و قد كان لفلان).متفق علیه

**ترجمه:** غوره صدقه هغه ده چې د روغتیا او د مال را ټولولو حرص لري او د فقر نه ډار لري او د شتمن کیدو هیله لری صدقه ورکړی نه دا چې صدقه نه ورکوي ترڅو چې مرګ درته راشي او بیا داسې وایي : فلایي ته دومره ورکړئ او فلانی ته هومره ورکړئ پداسی حال کې چې دغه مهال په خپله دبل چاپوری ارتباط پیداکوي (او د تا نه دي).

نو بهتره صدقه هماغه ده چې انسان د هغه په واسطه د حب مال بخل له غریزی سره مقابله وکړي.

**۳- ټولنیز تکافل (ملاتړ او حمایت حمایت) :**

د زکات د وجیبي او نورو صدقاتو د مشروعیت بل حکمت دادی چې زکات ډیره ښه او غوره لاره ده د اجتماعي تکافل د تحقق لپاره.

ځکه کومه ټولنه کې چې د زکات مالونه په ښه او صحیح ټوګه اداء شي، د دوستي، محبت اړیکي د هغې ټولنې د افرادو ترمنځ لاښې او قوي کیږي چې په نتیجه کې د هغې ټولنې وګړي د نورو ډیرو ټولنو نه زیات د الهي رحمت مستحق ګرځي. په همدې اساس الله جل جلاله د زکات ورکول د خپل رحمت د اسبابو څخه بولي .
ددې خبرې دلیل د الله تعالی دا قول دی:{وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ}التوبة : ۷۱

**ترجمه:** او نارینه مومنان او ښځینه مومنانی یو د بل دوستان او (مرستندوی) دي په نیکو امر او له بدو منع کوي او لمونځ کوي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پیغمبر اطاعت کوي همدوی دي چې الله جل جلاله به یې ډیر ژر خپل رحمت لاندی راولي هغه برلاسی حکمت والا دی.

اسلامي دین دا نه قبلوي چې په اسلامي ټولنه کې داسی کسان میشت وي چې ځان لپاره مناسب معیشت هستوګنځی، لباس او خوراک ونلري.

دا هغه اړتیاده چې باید مسلمان وګړي یې د نورو اړتیاو سره د خپلو هڅو او کوښښونو له لاری ترلاسه کړي خو که چیرې کوم انسان په اسلامي ټولنه کې په دې کار قادر نه شي چې ځان ته د ژوند مناسب لومړني توکي پیدا کړي نو باید دغه اړتیاوې د ټولنی د وګړو په واسطه پوره او تضمین شي نو د زکات او نورو صدقاتو وجیبه یواځینی اساسي لاره ددغه اجتماعي کفالت ده. چې د اسلام له لوري مشروع او تاکل شوی ده.

**۴- فقیرانو او مسکینانو سره خوا خوږي او مرسته:**

د زکات د وجیبې او نورو صدقاتو د مشروعیت بل حکمت دادی چې د زکات ورکول مسکینانو ته، د هغوی سره د خواخوږۍ او مرستي ډګر شمیرل کیږي. زکات د بیوزلانو دوستي او خوښي ترلاسه کول دي او د کینې او حسد له منځه وړلو لامل ګرځي. زکات هغه څه دي چې له برکته یې ددوو طبقو شتمنو او بې وزلو ترمنځ واټن له منځه ځي او یو بل ته نږدې کیږي.

**۵- د فقر اونیستۍ د کمولو لپاره مبارزه:**

د زکات وجیبی او نورو صدقاتو د مشروعیت بل حکمت دادی چې زکات او صدقات د فقر په ضد او فقر لری کولو کې ډیره اړینه اغیزه لري.

## د زکات ګټې:

۱. زکات د اسلام د ارکانو څخه یو رکن دی او د ایمان له ستنو څخه یوه ستن ده.
۲. په زکات سره مسلمان ته دنیوي او اخروي نیکبختي حاصلیږي.
۳. د زکات په ورکولو سره الله جل جلاله انسان ته اجر ورکوي.
۴. د زکات په ورکولو سره مالي عبادت ترسره کیږي؛ ځکه زکات مالي عبادت دی .
۵. د زکات ورکول د مسلمان زړه ته اطمینان او ارامي وربښي .
۶. په زکات سره د زکات ورکونکي نفس د بخل څخه ساتل پاکیږي.
۷. د زکات په ورکولو سره د فقیرانو او مسکینانو لاس نیوی کیږي.
۸. د زکات په ورکولو سره د ټولنې څخه د فقر او بې وزلۍ ټغر ټولیږي.
۹. د زکات په ورکولو سره دفقیرانو او مسکینانو زړونه د حسد او کینې اودښمنیو څخه پاکیږي.
۱۰. د زکات په ورکړې سره بیوزلان د نا امیدی له مرض څخه نجات مومي.
۱۱. د زکات په ورکړې سره په مال کې زیاتوالی او برکت رازي او له آفتونو څخه خلاصیږي.
۱۲. د زکات په ورکولو سره د دوستی، سخاوت او نورو ته پاملرنی نیالګی وده کوي.
۱۳. د اجتماعي تکافل او یووالی تحقق .
۱۴. د زکات په ورکولو سره اقتصادي پر مختګ راځي او دخلکو اقتصادي وضعیت ښه کیږي .

۱۵. زکات د نفس د پاکۍ وسیله او د بخل علاج دی او د مال لپاره برکت او د شرنه د هغه ساتنه ده .

۱٦. څوک چې د زکات په ورکولو خپل نفس پاک کړي، د ایمان خوږوالی به ومومي .

۱۷. هر مال چې زکات یې ورکړشي هغه ته خزانه نه ویل کیږي .

## د زکات مستحقين:

د زکات مستحقين آته ډوله خلک دي چې الله جل جلاله په دې آيت شريف کې ياد کړي دي:

(إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ) التوبة : ٦٠

**ژباړه:** دا د زکاة مال يواځې د فقيرانو او مسکينانو لپاره دي او د هغو خلکو لپاره دي چې د زکات را ټولونکي وي او د هغو لپاره دي چې د هغوی زړونه په لاس راوړل مقصد وي. دغه راز دا د مريانو لپاره دي چې ځانونه پرې آزاد کړي او د پوروړو د مرستې لپاره دي او د الله جل جلاله په لاره کې تلونکو لپاره دي ( مجاهدين او مسافر) زکات د الله له لوري يوه فريضه ده او الله تعالی په هرڅه پوهه او حکمت والا دی .

غنيانو او بنی هاشمو ته زکات ورکول جواز نه لري.

په يو حديث کې پيغمبر عليه السلام فرمايي: وعن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : «لاَتَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِي، وَلاَ لِذِي مِرَّةٍ سَوِي » ابوداود والترمذي

**ژباړه:** له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د زکات ورکول غني ته حلال نه دي او نه هم روغ او سالم شخص ته .

**وعن** أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : « لَيسَ المِسكِينُ الَّذِي تَرُدُّهُ الأكلَة وَالأكلَتَانِ، وَلَكِنِ المِسكِينُ الَّذِي لَيسَ لَهُ غنى، وَيستَحيي أو لاَيسألُ النَّاسَ إلحَافاً » البخاري

**ژباړه:** له ابوهرير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي : رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : مسکين هغه نه دی چې په يوه مړۍ او يا دوه مړۍ پسې د خلکو د دروازو تر شا ودريږي، بلکې مسکين هغه دی چې دهغه سره مال نه وي او حيا کوي ( د چا نه څه نه غواړي) او يا دا چې د خلکو څخه يې په ډير اصرار نه غواړي .

**وعن**عبدالمطلب بن ربيعة بن الحارث رضي الله عنه، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم « إنَّ هَذِهِ الصَّدَقَاتِ إنَّمَا هِي أوسَاخُ النَّاسِ، وَإنَّهَا لاَتَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلا لآلِ مُحَمَّدٍ » . رواه مسلم

**ژباړه:** له عبدالمطلب بن ربيعه بن حارث رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : يقيناً داد زکات مال د خلکو ناپاکۍ ده او دا د محمد او د ده د کورنۍ لپاره روا نه ده .

په قرآني آيتونو او دپيغمبر دآحاديثو له پلوه د زکات ورکولو کسان معلوم دي او پرته له دوی څخه بل چاته يا په ځای کې مصرفول يې جواز نه لري. د زکات مصرف په لاندې ډولونوکې منحصر دی او نوروته يې ورکول صحيح نه دي او هغوی دا دي :

۱. **فقراء :** د فقير جمع ده : هغه چاته ويل کيږي چې نه مال ولري او نه کسب اوکار.

۲. **مساکین:** د مسکين جمع ده : هغه چاته ويل کيږي چې مال هم لري او د کار خاوند هم دی او يوه اندازه کفايت يې هم پرې کيږي خو په ټوليزه توګه د ده لومړنی اړتياوې نه پوره کوي د مثال په توګه يو نفر اووه يا اته درهمه لري خو د ده کفايت په لس درهمه کيږي.

۳. **العاملون عليها:** يعنی هغه کسان چې د زکات په راټولو او د هغه په حساب او کتاب او مستحق ته د هغه په رسولو اخته وي نوداسې چا ته د زکات له ماله اجوره ورکول کيږي ولوکه مالداره هم وي .

۴. **المؤلفة قلوبهم:** دوی هغه کسان دي چې تازه يې اسلام ته مخه کړې خو تر اوسه ايمان د دوی په زړونو کې ځای نه وي نيولی - دې کسانو ته د زکات مال ورکول کيږي ، ترڅو زړونه يې اسلام قبلولو او د ايمان د قوت لپاره ګټور تمام شي او د دوی نورو همجنسو ته ترغيب او هڅونه شي.

۵. **وفی الرقاب:** د غلامانو څخه عبارت دي - د علماوو په وينا مکاتب غلام ته بايد د زکات پيسې ورکړل شي ، ترڅو خپل بادار ته يې ورکړي او ځان پرې آزاد کړي .

٦. **الغارمون:** د غارم جمع ده يعنی قرضدار چې د ده مال او شته د قرضونو د اداء کولو لپاره کفايت نه کوي .

۷. **وفي سبيل الله:** د الله په لارکې ( دجهاد او طالب العلم لپاره ).

۸. **ابن السبيل :** دهغه مسافر څخه عبارت دی چې د سفر توښه يې په سفر کې خلاصه شوې وي، نو بايد دومره زکات ورکړ شي ، ترڅو دی خپل کورته پرې ورسيږي که څه هم مالداره او بډای وي.

**أقول قولي هذا، استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين**